لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

اقتصاد پوهنځی

# د اقتصاد پوهنځي ستراتیژیک پلان

(۱۴۰۳–۱۴۰۷هـ.ل)

چمتو کوونکي:

د ستراتیژیک پلان فرعي کمېټه



# د اقتصاد پوهنځي ستراتېژيک پلان

(۱۴۰۳–۱۴۰۷ هـ ل)

چمتو کوونکي :

د ستراتيژيک پلان فرعي کمېټه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمین والصلاۀ والسلام علی

خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه أجمعین


**د کتاب پېژندنه**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د اقتصاد پوهنځي ستراتېژيک پلان |
| چمتو کوونکي | : | د ستراتېژيک پلان فرعي کمېټه |
| ډيزاينر | : | پوهنيار عبدالله حبيبي |
| خپرندوی | : | پکتيکا پوهنتون – اقتصاد پوهنځی |
| چاپ لړ | : | لومړی |
| چاپ کال | : | ۱۴۴۷ هـ. ق (۱۴۰۴ هـ. ل) |
| اړيکي شمېره | : | ۷۹۱۷۹۹۷۹۱ ۹۳+ |
| ايميل آدرس | : | abd.habibi.af@gmail.com |



د دې اثر د چاپ حق د پکتيکا پوهنتون له اقتصاد پوهنځي سره خوندي دی!

# لیکلړ


د پوهنځی د رئیس پیغام ........ ۱
د ستراتیژیک پلان مفاهیم ........ ۲
د پوهنځي د ستراتیژیکي پلان جوړونې چوکاټ ........ ۴
۱ – کلیات ........ ۵
۱ – ۱ – سریزه ........ ۵
۱ – ۲ – د ستراتیژیک پلان اهمیت ........ ۵
۱ – ۳ – د اقتصاد پوهنځي لنډه پېژندنه ........ ۶
۱ – ۴ – د پوهنځي تدریسي نظام ........ ۶
۱ – ۵ – د پوهنځي زېربناء او امکانات ........ ۶
۱ – ٦ – د پوهنځي احصائیوي ارقام ........ ۷
۱ – ۷ – د پوهنځي تشکیلاتي چارت ........ ۸
۱ – ۸ – د اقتصاد پوهنځي څېړنېز او مطالعاتي وضعیت ........ ۸
۲ – د پوهنځي ستراتیژیک موارد ........ ۹
۲ – ۱ – د پوهنځي لیدلوری ........ ۹
۲ – ۲ – د پوهنځي ماموریت ........ ۹
۲ – ۳ – د پوهنځي ارزښتونه ........ ۹
۲ – ۴ – د پوهنځي ستراتیژیکې موخې ........ ۹
۲ – ۵ – د پوهنځي راتلونکي برنامې ........ ۱۰
۲ – ۵ – ۱ – د علمي څېړنو پیاوړتیا او د پوهنې او نوښت تولید ........ ۱۰
۲ – ۵ – ۲ – ښه اداره او رهبري او د فساد کاملا محوه کول ........ ۱۰
۲ – ۵ – ۳ – د نصاب پراختیا او د غوره نصاب تطبیق کول ........ ۱۱
۲ – ۵ – ۴ – د چارو نظارت او ارزونه او د کیفیت لوړاوی ........ ۱۱
۲ – ۵ – ۵ – د تکنالوژي ترویج او الکترونیکي زده کړې ........ ۱۱
۲ـ ۵ – ٦ – د زېربناء پراختیا او فزیکي اړتیاوې رفع کول ........ ۱۱
۲ – ۵ – ۷ – د علمي برنامو ایجادول او ظرفیت لوړونه ........ ۱۲
۲ – ۵ – ۸ – د داخلي تقنیني اسنادو تعدیل او تطبیق ........ ۱۲
۲ – ۵ – ۹ – توامیتونه او ټولنې په پرمختیا کې رول لرل ........ ۱۲
۲ – ۵ – ۱۰ – د محصلانو اړوند خدماتو ته پراختیا ورکول ........ ۱۲

۲–۵–۱۱– د عوایدو او عایداتي سرچینو زیاتوالی ........................................ ۱۲
۲–۵–۱۲– په نړیواله کچه فعالیتونه سرته رسول ........................................ ۱۳
۳– د پوهنځي د چاپېریال تحلیل ........................................ ۱۴
۳–۱– د پوهنځي د داخلي چاپېریال عوامل ........................................ ۱۴
۳–۱–۱– د پوهنځي قوتونه ........................................ ۱۴
۳–۱–۲– د پوهنځي کمزورتیاوې ........................................ ۱۴
۳–۱–۳– د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل ........................................ ۱۴
۳–۲– د پوهنځي د خارجي چاپېریال عوامل ........................................ ۱۵
۳–۲–۱– د پوهنځي فرصتونه ........................................ ۱۵
۳–۲–۲– د پوهنځي فرصتونه ........................................ ۱۶
۳–۲–۳– د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل ........................................ ۱۶
۳–۳– د (IEM) متریکس په مرسته د داخلي او خارجي محیطي عواملو پرتله ........................................ ۱۶
۳–۳–۱– د نهه خانې ای متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت ........................................ ۱۷
۳–۳–۲– د څلور خانه اې متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت ........................................ ۱۷
۳–۴– د (SWOT) متریکس په مرسته د داخلي او خارجي محیطي عواملو پرتله ........................................ ۱۸
۳–۵– د پکتیکا پوهنتون ستراتېژیک لومړیتوبونه ........................................ ۲۰
۳–٦– د اقتصاد پوهنځي د ستراتېژیک پلان محورونه ........................................ ۲۱
۳–۷– د اقتصاد پوهنځي ستراتېژیک محورونه او ستراتېژیانې ........................................ ۲۱
۱. لوړو زده کړو ته د عادلانه لاس رسی محور ........................................ ۲۱
۲. د کار کوونکو د زیاتوالي او پیاوړتیا محور ........................................ ۲۱
۳. علمي او څېړنیزو خدماتو ته د ودې ور کولو محور ........................................ ۲۱
۴. د مالي چارو او عایداتي سرچینو محور ........................................ ۲۱
۵. د زیربناء او تدریسي او اداري امکاناتو محور ........................................ ۲۱
٦. د غوره اداري او رهبري محور ........................................ ۲۱
۳–۸– د اقتصاد پوهنځي ستراتېژیک لومړیتوب ........................................ ۲۱
۴– د پوهنځي لنډ مهاله موخې ........................................ ۲۵
۵– د پوهنځي عملیاتي پلان ........................................ ۲٦
٦ – د پوهنځي مالي پلان ........................................ ۲٦
د پایلو په اساس د اقتصاد پوهنځي د د ۱۴۰۳ مالي کال عملیاتي پلان ........................................ ۲۷
د پایلو په اساس د اقتصاد پوهنځي د د ۱۴۰۴ مالي کال عملیاتي پلان ........................................ ۴۳

د پایلو په اساس د اقتصاد پوهنځي  د ۱۴۰۵ مالي کال عملیاتي پلان ........................................................................ ۵۹
د پایلو په اساس د اقتصاد پوهنځي  د ۱۴۰٦ مالي کال عملیاتي پلان ........................................................................ ۷۵
د پایلو په اساس د اقتصاد پوهنځي  د ۱۴۰۷ مالي کال عملیاتي پلان ........................................................................ ۹۱
د اقتصاد پوهنځي د ۱۴۰۳ – ۱۴۰۷ کلونو مالي پلان (بودجه) ........................................................................ ۱۰۷
۷– د ستراتېژیو اجرا کول ........................................................................ ۱۱۱
۸– د ستراتیژیک پلان د ستراتیژیو نظارت او ارزونه ........................................................................ ۱۱۱
تائیدیي ........................................................................ **Error! Bookmark not defined.**

## د پوهنځی د رئیس پیغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلواة والسلام علي المبعوث رحمة للعلمين سيدنا محمد خاتم الانبياء والمرسلين صلى الله عليه وسلم وعلى اله وصحبه اجمعين و من تبع هداه بإحسان الي يوم الدين، اما بعد :

انسان هره کاري کړنه د دې لپاره تر سره کوي، چې اجناسو او خدماتو ته لاس رسی پیدا کړي او د هغو په مټ خپله هوساینه او خوشحالي زياته کړي؛ مگر په دې برخه کې د هغوی غوښتنې او خواهشات بې شمېره خو تر لاس لاندې سرچينې محدودي دي. د اقتصاد علم په دا ډول شرايطو کې د تصميم نيونې لاره روښانه کوي؛ نو ځکه یې اجمالي زده کړه د هر وګړي لپاره اړینه ده. د دې لپاره چې د ټولنې له اړتيا سره سم د اقتصاد په برخه کې مسلکي کادرونه او کارکوونکي و روزل شي، د پکتيکا لوړو زده کړو پوهنتون په تشکيل کې اقتصاد پوهنځی تأسيس شوی دی او د منجمنټ او تشبثاتو د اداري او مالي او بانکي په دوو تخصصي څانګو کې د ټولنې له اړتيا سره سم ځوان کادرونه روزي او له اکاډميکو معيارونو سره سم فعاليت کوي.

د پکتيکا پوهنتون اقتصاد پوهنځی په خپل ټول توان سره هڅه کوي، چې د تدريس، څېړنې او خدماتو له لارې د خپلې ټولنې او هېواد په اقتصادي پرمختيا کې ونډه واخلي او دا هيله لري، چې زمونږ هېوادوال به د معقولو اقتصادي وګړو په څېر د دې علم د اصولو په تطبيق سره په خپل ژوند کې يو مثبت تحول رامنځ ته کړي او د خپل ځان، کورنۍ، ټولنې او هېواد لپاره به د خدمت جوګه وګرځي.

د پوهنځي موخو ته د رسېدنې لپاره له شک پرته يوه جامع او هر اړخيز پلان ته اړتيا ليدل کېږي، ددې اړتيا د رفع کولو په منظور د پوهنځي لپاره پنځه کلن ستراتېژيک پلان تدوين شوی دی او هغه به په عمل کې پلی کېږي. دغه پوهنځی په نظر کې لري ترڅو د خپل ستراتېژيک پلان په رڼا کې خپل علمي پروګرامونه پرمخ يوسي او ددې ترڅنګ هڅه کوي چې په مديريتي، تربيوي او څېړنيزو برخو، د هوکړه ليکونو د لاسليکولو، د درسي ټولګيو د معياري کولو، د عصري او پرمختللي کتابتون د ايجاد، د استادانو او کارکوونکو د ظرفيت د لوړونې په برخه او نورو مواردو کې داسې نوي پروګرامونه پلي کړي، چې د اقتصاد پوهنځي د علمي اعتبار د زياتولو سبب ګرځي. په پای کې د اقتصاد پوهنځي له ټولو با احساسه علمي کادرونو او اداري کارکوونکو څخه ډېره مننه کوم چې د پوهنځي د چارو په پرمخ وړلو کې يې فعاله ونډه لرلې دی، الله تعالی (جل جلاله) دي د هغوی ټولو خدمتونه قبول کړي.

په پای کې د ستراتېژيک پلان د کميټې له ټولو محترمو غړو څخه يوه نړۍ مننه کوم، چې ددې پلان د جوړونې په برخه کې يې ګڼ شمېر ستونزې ګاللي دي او هم له هغو ټولو قدرمنو استادانو، کارکوونکو، ګرانو محصلانو او نورو ښکېل اړخونو څخه هم ډېره مننه کوم، چې ددې پلان په جوړونه او نظر ورکوونه کې يې ونډه لرلې دی او خپل رغنده نظريات يې له مونږ سره شريک کړي دي. الله تعالی (جل جلاله) دي هغوی ټولو خدمتونه قبول کړي.

په درنښت

پوهنيار عبدالله حبيبي

د اقتصاد پوهنځي رئيس

## د ستراتېژيک پلان مفاهيم

**پلان:** پلان د هغو اقداماتو مجموعې ته ويل کېږي، چې په با خبره شکل چمتو شوي وي او يوې يا څو خاصو موخو ته د رسېدنې په موخه تر سره کېږي. د پلان په جوړېنت کې بايد دا پوښتنې جواب شي: څه شی؟ په څه موخه؟ د چا په واسطه؟ چېرې؟ څه وخت؟ په کومو منابعو سره؟ په څه اغېزې سره او څرنګه تر سره شي.

**ستراتېژي:** ستراتېژي هغه طرح دی، چې د يو فکر په اساس د پوهنتون/پوهنځي موخو ته د رسېدنې لپاره جوړېږي. يا په بل عبارت ستراتېژي هغه جامع طرح دی، چې د يوه پوهنتون/پوهنځي موخې، پاليساني، پلانونه او عملياتي کړی د يوه کُل په څوکاټ کې يو له بل سره په تړلي توګه ترکيبوي.

**ستراتېژيک پلان:** د هغو مراحلو لنډيز ته ويل کېږي، چې د برخو يا ديپارتمنتونو په نسبت د پوهنتون/پوهنځي په کُلي موخو سره طرح شوی او په جامع توګه تدوين شوی وي.

**ستراتېژيکه پلان جوړونه:** د هغو مديريتي تصاميمو او اقداماتو علم او هنر دی، چې محيطي عواملو ته په پام سره موخو ته د رسېدنې لپاره تدوين، اجرا او ارزول کېږي.

**تدوين:** د ستراتېژيکي پلان جوړونې لومړی مرحله تدوين دی، چې د ليدلوري، ماموريت، ارزښتونو، موخو، د داخلي او خارجي محيطي عواملو تحليل، د ستراتېژيک حالت ټاکنه، د ممکنه ستراتېژيانو ټاکنه او د لومړيتوبونو ټاکنه پکې شامله‌ېږي.

**اجرا:** د ستراتېژيکي پلان جوړونې دويمه مرحله اجرا دی، چې د ستراتېژيک لومړيتوب ټاکنه، د لنډمهاله موخو ټاکنه، کلنی عملياتي پلان، د بودجې تدوين، د پوهنتون/پوهنځي د جوړښت تجديد يا طراحي، د اجرايي پاليسانو تدوين، د پوهنتون/پوهنځي د رهبري سبک ټاکنه او د منابعو تخصيص پکې شامله‌ېږي.

**ارزونه:** د ستراتېژيکي پلان جوړونې دريمه مرحله اجرا دی، چې د لوړو زده کړو وزارت/پوهنتون د معيارونو په او پاليسانو په اساس د پوهنځي د کړنو د تطبيق لپاره ضروري ګڼل کېږي.

**ليدلوری:** يا ارمان د پوهنتون/پوهنځي د راتلوونکي مسير يا تګ ليکې انځور را ښيې. يا په بل عبارت ليدلوری د هغه څه ذهني يا تجسمي انځور دی، چې پوهنتون/پوهنځي يې غواړي.

**ماموريت:** ماموريت د پوهنتون/پوهنځي د شتون مقصود او دليل بيانوي. ماموريت د پوهنتون/پوهنځي د شتون د فلسفې او علت څرګندونه کوي او د پوهنتون/پوهنځي نهايي موخه راښيې.

**موخه:** موخه يا هدف هغه ټکی دی، چې زمونږ هڅې هغه ته د رسېدنې لپاره تر سره کېږي. د پوهنتون/پوهنځي موخې بايد مشخصې، د اندازه کولو وړ، واقعي، د لاس ته راوړنې وړ او په ټاکل شوي وخت کې د لاس ته راوړنې وړ وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه د پوهنتون/پوهنځي هغه متحرک او اساسي اعتقادي اصول دي، چې پوهنتون/پوهنځي هغو ته په پام او احترام سره خپل ليدلوری، ماموريت او موخې ټاکي او د هغو په رڼا کې خپل فعاليتونه پرمخ وړي.

**د داخلي عواملو د تحليل متريکس** Internal Factors Evaluation Matrix (IFEM): داخلي عوامل هغه فکتورونه دي، چې د پوهنتون/پوهنځي په داخل پورې اړه ولري او د خارجي عواملو په خلاف د سازمان د مديريت او کنترول وړ وي، چې په دوو برخو؛ قوتونو او ضعفونو (کمزورتياوو) ويشل کېږي. دغه فکتورونه د داخلي عواملو د تحليل د متريکس په واسطه تر تحليل او تجزيې لاندې نيول کېږي.

**د خارجي عواملو د تحلیل متریکس** Externsl Factors Evaluation Matrix (EFEM): خارجي عوامل هغه فکتورونه دي، چې له پوهنتون/پوهنځي څخه بهر موقیعت لري لکه په مختلفو اقتصادي، سیاسي، قانوني، ټولنیزو، فرهنګي، تکنالوژیکي او نړیوالو برخو کې تغیرات پکې شاملېږي. دغه فکتورونه د داخلي عواملو په خلاف د سازمان د مدیریت او کنترول وړ نه وي، چې په دوو برخو؛ فرصتونو او خنډونو ویشل کېږي. دغه فکتورونه د خارجي عواملو د تحلیل د متریکس په واسطه تر تحلیل او تجزیې لاندې نیول کېږي.

**سوات**: سوات د قوتونو (Strenghths)، ضعفونو (Weaknesses) فرصتونو (Opportunities) او خنډونو (Threats) مخفف دی. د قوت ټکی د سازمان هغه ځانګړي وړتیا یا په منافعو، مهارتونو او امکاناتو کې زیاتوالی دی، چې د سازمان ماموریت ته په رسېدلو کې مرسته کوي. د ضعف ټکی د سازمان د منابعو، امکاناتو او مهارتونو هغه کموالی او محدودیت دی، چې د سازمان د بریالیو کړنو د سرته رسول مانع ګرځي. فرصت له هر هغه خارجي عامل څخه عبارت دی، چې له سازمان سره ماموریت ته په رسیدلو کې مرسته کوي، د سازمان لپاره ګټه ایجادوي او د هغه مرسته کوي. خنډ له هغه نامطلوب خارجي عامل څخه عبارت دی، چې د سازمان د بریا مخه نیسي او د سازمان د بریالیو کړنو په تر سره کولو کې مزاحم ګرځي.

**داخلي او خارجي متریکس** Internal & Exterenl Matrix (IEM): دغه متریکس د داخلي او خارجي محیطي عواملو د تطبیق او مقایسه کولو یوه مناسبه وسیله دی، چې د پوهنتون/پوهنځي د ستراتېژیک حالت په ټاکنه کې مرسته کوي او د مناسبو ستراتېژیانو د ټاکنې زمینه برابروي.

**سوات متریکس** (SWOT Matrex): دغه متریکس د ستراتېژۍ د ټاکنې یو روش دی، چې په مرسته یې لومړی داخلي او خارجي محیطونه تحلیلېږي او له هغه وروسته داسې ستراتېژیک تصامیم نیول کېږي، چې د سازمان قوتونه له فرصتونو سره متوازن کړي.

**تهاجمي ستراتېژیانې** (SO): ددې ستراتېژیو په مرسته سازمان د خپلو داخلي قوتونو په واسطه له خارجي فرصتونو څخه ګټه اخلي.

**محافظه کاره ستراتېژیانې** (WO): په دې ستراتېژیو کې سازمان له خارجي فرصتونو څخه په ګټه اخیستنې سره خپل د ضعف ټکي په قوتونو بدلوي.

**رقابتي ستراتېژیانې** (ST): ددې ستراتېژیو په مرسته سازمان له خپلو قوتونو څخه په ګټه اخیستنې سره د خارجي خنډونو د کمولو یا له منځه وړلو هڅه کوي.

**تدافعي ستراتېژیانې** (WT): ددې ستراتېژیو په مرسته سازمان خپل ضعفونه کموي ترڅو د خارجي خنډونو مخه ونیسي. په دې حالت کې سازمان دفاعي حالت غوره کوي.

**د کمي ستراتېژیکي پلان جوړونې متریکس** Quantitative strategic Planning Matrix (QSPM): له دې روش څخه په ګټه اخیستنې سره ډول ډول ستراتېژیانې پېژندل کېږي او د تطبیق په مرحله کې تر ارزونې لاندې نیول کېږي. دغه متریکس د هرې ستراتیژۍ لپاره لومړیتوب ټاکي، ترڅو په مرسته یې مدیران او پلان جوړوونکي د غوره ستراتېژۍ د ټاکنې تصمیم ونیسي. د دې ترڅنګ د مختلفو ستراتېژیو له منځه د لومړیتوبونو د ټاکنې لپاره یو ه غوره وسیله ګڼل کېږي. د دې متریکس په جوړښ کې په افقي سطرونو کې داخلي او خارجي محیطي عوامل لیکل کېږي او په عمودي ستونونو کې پورته ذکر شوي ۱۳ ستراتېژیانې لیکل کېږي او د جذابیت او اهمیت د ظریبونو په مرسته د هرې ستراتېژۍ لپاره مجموعي نمرې ترلاسه کېږي او د نمرو لوړوالی د ستراتېژۍ د لومړیتوب ښوونه کوي.

## د پوهنځي د ستراتېژيکي پلان جوړونې چوکاټ

د پوهنځي د ستراتېژيکي پلان جوړونې چوکاټ په لاندې موډل کې ښودل شوی ده :




منبع: د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژیک پلان د تدوین لارښود

# ۱- کلیات

## ۱-۱- سریزه

اقتصاد پوهنځی چې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسي له شته پوهنځیو څخه ګڼل کېږي په ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې تأسیس شوی دی او د منجمنټ او تشبثاتو د اداري او مالي او بانکي دوو دیپارتمنتونو په برخه کې د هېواد او لوړو زده کړو محترم وزارت د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو او د پکتیکا پوهنتون د ټولو داخلي نورمونو مطابق فعالیت کوي او د ټولنې له اړتیا سره سم په دې برخو کې ژمن او مسلکي کادرونه تربیه او ټولنې ته وړاندې کوي. دا چې د اقتصاد چارو اړوند رشتې د ټولنې له اړینو رشتو څخه ګڼل کېږي؛ نو ځکه ددې پوهنځي د فارغانو کاري ساحه پراخه دی او له دې پوهنځي څخه فارغ شوي محصلان کولای شي، چې په مختلفو اداري، مدیریتي، سوداګریزو، مالي او بانکي برخو کې اغېزناک او مثمر فعالیتونه او کړنې تر سره کوي.

دغه پوهنځی د ماستر او لیسانس په کچه د مسلکي او باتجربو استادانو په لرلو سره محصلانو ته تحصیلي خدمات وړاندي کوي او د دې ترڅنګ په علمي، څېړنیزو او فرهنګي برخو کې د ګټورو فعالیتونو په وړاندې کولو بوخت دی. د پوهنځي د ستراتېژیک پلان فرعي کمیټې د پوهنتون د لیدلوري، ماموریت او موخو په پام کې نیولو سره خپل لیدلوری، ماموریت او موخې تدوین کړي دي، د هغو په رڼا کې یې ستراتېژیک او عملیاتي پلانونونه ترتیب کړي دي او د خپلو ستراتیژیو د پلي کول او خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره په ښه توګه ماموریت تر سره کړي او ځان خپل لیدلوري ته ورسوي.

## ۱-۲- د ستراتېژیک پلان اهمیت

دا چې د یوه تائید شوي ستراتېژیک پلان درلودل د یوه نهاد له ښکاره اړتیاوو څخه شمېرل کېږي؛ نو ځکه د اقتصاد پوهنځي د ستراتېژیک پلان فرعي کمیټې د هغه د اهمیت په درک کولو او په منظم او پلان شوي شکل د فعالیتونو د سرته رسولو په موخه خپل پنځه کلن ستراتېژیک پلان تدوین کړی دی او د هغه په رڼا کې خپل فعالیتونه پرمخ وړي. د ستراتېژیک پلان شتون د دې ترڅنګ چې اداري ته پروګرام ورکوي د پوهنځي، لیدلوری، ماموریت او موخې روښانه کوي او د پوهنځي مشرتابه پلاوی او ټول ما تحت کارکوونکي خپلو ټولو اړوند دندو او مسؤلیتونو ته متوجه کوي.

دغه ستراتېژیک پلان د پکتیکا پوهنتون د ستراتېژیک پلان د محتوا په رڼا کې چمتو او تدوین شوی دی او د علمي څېړنو تر سره کولو، توامیتونو لاسلیکولو، د تکنالوژي کارونې، ترویج او پلي کولو، د برنامو د ایجاد، پلان جوړونې، کیفیت لوړوي او د استادانو او محصلانو د ظرفیت لوړونې او هغو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو په څېر د مهمو او عمده برخو لرونکی دی. په دې ستراتېژیک پلان کې د راتلونکي پنځو کالو لپاره د هر کال کاري پلان ته ځای ورکړل شوې دی، چې په خپل وار سره د ټولو کادري او اداري کارکوونکو لپاره د اجرائیوي کړنو د یوه غوره لارښود حیثیت لري او د ټولو عملیاتي کړنو څرګندونه کوي.

دغه پلان د اقتصاد پوهنځي د ستراتېژیک پلان فرعي کمېټې لخوا د کره ارزونې او اړتیا سنجونې په پایله او له استادانو، اداري کارکوونکو او برحال محصلانو سره په مشوره او له نورو ښکېل اړخونو او ګمارونکو څخه د رغنده نظریاتو د راټولولو، ارزولو او توحیدولو په ترڅ کې تدوین شوی دی. د ستراتېژیک پلان دغه نسخه د اقتصاد پوهنځي د لیدلوری، ماموریت او موخو څرګندونه کوي او د ددې پوهنځي د چارو د تنظیم، پلانولو او پرمختیا په برخه کې د یوه مهم سند په توګه منل شوې ده. له لوی الله (جل جلاله) څخه غواړو، چې دغه ستراتېژیک پلان د اقتصاد پوهنځي د محصلانو د ښې روزنې او د پوهنځي د علمي اعتبار د لوړولو په برخه کې ګټور ثابت کړي او د اقتصاد پوهنځي مشرتابه پلاوی، استادانو او کار کوونکو ته د هغه د ښه تطبیق کولو توفیق ور نصیب کړي.

### ۱-۳- د اقتصاد پوهنځي لنډه پېژندنه

اقتصاد پوهنځی په ۱۳۹۹ هجري لمريز کال کې تأسيس شوی دی او په دوو څانګو، منجمنټ او د تشبثاتو د اداري او د مالي او بانکي چارو په څانګو کې ځوان، ژمن او مسلکي کاري ځواک ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کوي. د دې پوهنځي په منجمنټ او د تشبثاتو اداري څانګه کې تر دا مهاله اته تنه استادان ګمارل شوي دي، چې دوه تنه يې د ماسټري تحصيلي درجې لرونکي دي او نور شپږ تنه يې د ليسانس تر کچې زده کړې لري. د مالي او بانکي چارو په څانګه کې پنځه تنه استادان شته، چې څلور تنه يې د ليسانس او يو تن يې د ماسترۍ تر کچې زده کړې لري. د پوهنځي د دې علمی کادرونو له جملې څخه يې يو تن د پوهنمل، دوه تنه د پوهنيار او پاته لس تنه يې د نوماند پوهنيار علمي رتبې لرونکي دي. د علمي کادر له دې غړو څخه يو تن يې د پوهنځي د رئيس او دوه تنه يې د څانګو د آمرينو په توګه دنده پر مخ وړي. د کادرې غړو ترڅنګ په پوهنځي کې يو تن عمومي تدريس مدير، يو تن اجرائيه مدير او دوه تنه خدماتي کارکوونکي هم په دنده ګمارل شوي دي.

اقتصاد پوهنځي په ۱۴۰۳ تحصيلي کال کې خپله لومړۍ دوره فارغان چې ۴۲ تنو يې په منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګه کې او ۴۰ تنو يې په مالي او بانکي چارو څانګه کې زده کړې کړې وې، ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل او فعلا يې هم د هرې څانګې په هر ټولګي کې له ۴۰ تنه څخه زيات محصلين په زده کړه او تحصيل بوخت دي.

### ۱-۴- د پوهنځي تدريسي نظام

په دې پوهنځي کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا د تائيد شوي کريکولم او درسي مفرداتو مطابق له ديني، ملي او علمي معيارونو او ستندردونو سره سم تدريس تر سره کېږي. د اقتصاد پوهنځي تحصلي دوره اته سمستره په پام کې نيول شوي ده، چې په څلورو تحصيلي کلونو کې بشپړېږي. په دې پوهنځي کې تر پنځم سمستر پورې په دواړو څانګو کې مضامين په مشترک ډول لوستل کېږي او له پنځم سمستر څخه تر فراغت پورې د دواړو څانګو تخصصي مضامين يو له بل سره بېل وي خو يو شمېر نور عمومي او اساسي مضامين بياهم په دواړو څانګو کې په مشترک ډول تدريس کيږي. په دې څلور کلن روزنيز پروګرام کې ۱۵۶ کريډيټه په نظر کې نيول شوي دي چې د کريډيټ سيستم لايحې له مخې پوهنځی کولای شي چې لږ تر لږه ۱۳۸ کريډيټه بشپړ کړي. کريډيټ هغه درسي واحد دی، چې د هغه په اساس د سمسترونو په توپير سره د تحصلي دورې نصاب او همدارنګه په دې نصاب کې د هر مضمون ونډه ټاکل کېږي. د پوهنځي په تحصلي نصاب کې اساسي مضامين ۴۳ کريډيټه (۲۷،۵۶٪)، عمومي او اختياري مضامين ۲۴ کريډيټه (۱۵،۳۸٪)، تخصصي مضامين ۷۸ کريډيټه (۵۰٪) او مونوګراف او سمينارونه ۱۱ کريډيټه (۰,٦٤٪) ونډه لري.

### ۱-۵- د پوهنځي زېربناء او امکانات

لکه څرنګه چې د زيربناء او د تدريسي او اداري چارو د پرمخ وړلو لپاره د امکاناتو شتون د پوهنځي له ښکاره اړتياوو څخه ګڼل کېږي او د هغو له شتون پرته محصلانو ته تحصيلي خدمات په سمه توګه نه شي وړاندې کېدلای، نو ځکه د پوهنځي مشرتابه هڅه کړې ترڅو د پوهنځي لپاره د اړتيا وړ زيربنائی او فزيکي امکانات چمتو کړي او عملا له دې امکاناتو څخه ګټه واخلي؛ له بده مرغه چې پوهنځي تر دا مهاله خپل تدريسي تعمير نه لري او د درسي ټولګيو د کموالي په سبب په سهارنې او له غرمې وروسته درسي وختونو کې د کرنې پوهنځي په اړوند ټولګيو کې تدريسي چارې پرمخ وړي. له تعميراتي زيربناء سربېره پوهنځی تر دا مهاله ځانګړی کتابتون، کمپيوتر ليب او د سمينارونو او غونډو لپاره ځانګړي تالار نه لري او په دې ټولو مواردو کې د پوهنتون له امکاناتو څخه ګټه اخلي. د پوهنځي مشرتابه پلاوی د لوړو زده کړو محترم وزارت او په ټوله کې د اسلامي امارت د امکاناتو او لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره دا هڅه کوي، چې په مناسب وخت کې د پوهنځي لپاره د دې زېربنائي امکاناتو د برابرولو وړانديز او هڅه وکړي.

### ۱-۶- د پوهنځي احصائیوي ارقام

اقتصاد پوهنځی تراوسه (۱۴۰۳ تحصیلي کال تر پایه) پورې په خپل تشکیل کې ۱۳ کادري بستونه (استادان) لري، چې پنځه تنه یې په مالي او بانکي او پاته ۸ تنه یې په منجمنټ او تشبثاتو په اداري څانګې پورې اړه لري؛ د دې اته تنه استادانو له ډلې څخه ٦ تنه استادان د اړوند څانګې مسلکي کادري غړي دي او دوه تنه یې د کمپیوټر مضمون د تدریس لپاره ګمارل شوي او کادري بستونه ورته په منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګه کې ځانګړي شوي دي. د مالي او بانکي څانګې یو تن استاد ماستري تحصیلي درجه او پوهنیار علمي رتبه لري او پاته څلور تنه یې لیسانس دي او نوماند پوهنیار علمي رتبه لري، چې دوه تنه یې د هېواد په داخل او بل یې له هېواده بهر په ترکیه هېواد کې د ماستري برنامې په زده کړه بوخه دي. د منجمنټ او تشبثاتو په اداري څانګه کې دوه تنه د اړوند څانګې مسلکي استادان او یو تن د کمپیوټر د تدریس استاد د ماستري تحصلي درجه لري او پاته استادان یې لیسانس تحصیلي درجه لري؛ د کمپیوټر د تدریس یو تن استاد پوهنمل او او یوتن مسلکي استاد پوهنیار علمي رتبه لري او پاته پنځه تنه استادان یې نوماند پوهنیار علمي رتبه لري او له جملې څخه دوه تنه د څانګې مسلکي استادان فعلا د هېواد په داخلي کې د ماستري برنامې په زده کړه بوخه دي. د پوهنځي د استادانو له جملې څخه د منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګې د عملي کادر یوتن ماستر پوهنیار کادري غړی فعلا د پوهنځي د رئیس په توګه (د دویم کادري بست لرونکی) او دوه تنه لیسانس نوماند پوهنیار استادان د د پیارتمنتونو د آمرینو په توګه (د دریم کادري بست لرونکي) دنده پرمخ وړي. د کادري تشکیل ترڅنګ پوهنځی تر دامهاله په خپل تشکیل کې یو تن عمومي تدریسي مدیر (د څلورم بست لرونکی)، یو تن اجرائیه مدیر (د پنځم بست لرونکی) او درې تنه خدماتي کارمندان (د اتم بست لرونکي) لري. د اقتصاد پوهنځي د ۱۴۰۴ کال د استادانو او کارمندانو احصائیه په لاندې جدول کې ښودل شوې دی:

| جدول: د اقتصاد پوهنځي د ۱۴۰۴ کال کادری او اداري تشکیل | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خانګه او پوهنځی | اکاډمیک بستونه | | | مجموعه | د ملکي خدماتو کارکوونکو بستونه | | | | | | | مجموعه | کلي مجموعه |
| | دویم | دریم | څلورم | | دویم | دریم | څلورم | پنځم | شپږم | اووم | اتم | | |
| منجمنټ او د تشبثاتو اداري څانګه | ۰ | ۱ | ٦ | ۷ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ |
| مالي او بانکي څانګه | ۰ | ۱ | ۴ | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵ |
| مجموعه | ۰ | ۲ | ۱۰ | ۱۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۲ |
| اقتصاد پوهنځی | ۱ | ۲ | ۱۰ | ۱۳ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۲ | ۴ | ۱۷ |

د پوهنځي د استادانو او کارمندانو د احصائیوي ارقامو سربېره د محصلینو له احصائیوي ارقاو څخه یادونه کول هم ضروري ده، دا چې دغه احصائیه هم له یوه څخه تر بل وخت پورې تغیر کوي؛ نو ځکه دلته د دواړو څانګو یوازې د ۱۴۰۴ کال د پسرلني سمستر له احصائیې څخه د سمسترونو په توپیر سره سره یادونه کوه، چې په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

| جدول: د اقتصاد پوهنځي د ۱۴۰۴ کال د پسرلني سمستر د محصلینو احصائیه | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خانګه او پوهنځی | ټولګی او سمستر | | | | | | | | مجموعه | کتنې |
| | ۱ ټولګی | | ۲ ټولګی | | ۳ ټولګی | | ۴ ټولګی | | | |
| | ۱ سمستر | ۲ سمستر | ۳ سمستر | ۴ سمستر | ۵ سمستر | ۶ سمستر | ۷ سمستر | ۸ سمستر | | |
| منجمنټ او د تشبثاتو اداري څانګه | ۰ | ٦٦ | ۰ | ۵۰ | ۰ | ۴٦ | ۰ | ۴۸ | ۲۱۰ | |
| مالي او بانکي څانګه | ۰ | ۵۱ | ۰ | ۵۸ | ۰ | ۴۵ | ۰ | ۴۳ | ۱۹۷ | |
| د اقتصاد پوهنځی ټول محصلین | ۰ | ۱۱۷ | ۰ | ۱۰۸ | ۰ | ۹۱ | ۰ | ۹۱ | ۴۰۷ | |

په پورته جدول کې د محصیلنو احصائیوي ارقامو د ۱۴۰۴ تحصیلي کال د پسرلني (جفت) سمسترونو په توپیر سره ښودل شوي دي او د هرې خانګې په هر ټولګي کې د برحال محصلینو د شمېر ښوونه کوي. د یادونې وړ دی، چې دغه احصائیه د محصلانو د تعجیل، محرومي او تبدیلي به دلیل سره د تغیر وړ او بدلېدونکي ده.

### ۱-۷- د پوهنځي تشکیلاتي چارت

د پکتیکا پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ۱۴۰۴ کال تشکیلاتي چارت په لاندې شکل کې ښودل شوی دی:




### ۱-۸- د اقتصاد پوهنځي څېړنیز او مطالعاتي وضعیت

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د اقتصاد پوهنځي زیاتره استادان لیسانس تحصیلي درجې او نوماند پوهنیار علمي رتبې لري او لږ شمېر استادان یې ماستري تحصیلي درجه او پوهنمل او پیوهنیار علمي رتبه لري او له بلې خوا د پکتیکا پوهنتون په چوکاټ کې اقتصاد پوهنځي نوی تأسیس شوی دی، چې تر دا مهاله یې یواځې یوه دوره فارغان ټولنې ته وړاندې کړې دي؛ نو څکه تر دا مهاله د علمي څېړنو او څېړنیزو مطالعاتو په سرته رسولو کې د دې پوهنځي رول کم رنګه دی، په نژدې راتلونکي کې د دې هیله موجوده دی، چې د لیسانس استادانو په ماستر کېدلو او د استادانو د پوهنیار علمي رتبو په تثبیت او لوړو علمي رتبو ته د هغوی په ترفیع کولو سره به دغه خلا رفع شي او د اقتصاد پوهنځي علمي کادرونه به د ټولنې دستونزو لپاره د حل لارو د وړاندې کولو او د علمي تشو د ډکولو په موخه په څېړنیزو فعالیتونه کې فعاله ونډه ولري. له دې سره سره پوهنځي د څېړنې د روش پوهنځي د غوره تدریس او محصلانو ته د علمي سیمنارونو د وړاندې کولو له لارې د فارغ کېدونکي محصلانو څېړنیز مهارتونه لوړ کړي دي او هغوی د غوره څېړنیز مونوګرافونو په لیکنه توانېدلي دي، چې په نژدې راتلونکي کې به دغه برخه نوره هم پیاوړې شي.

# ۲ – د پوهنځي ستراتیژیک موارد

## ۲-۱- د پوهنځي لیدلوري

اقتصاد پوهنځی به په نژدې راتلوونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه یو مخکښ او باکیفیته پوهنځی وي.

## ۲-۲- د پوهنځي ماموریت

اقتصاد پوهنځی د اکاډمیک چاپېریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مدیریت، د تشبثاتو د اداري او مالي او بانکي چارو په برخه کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او با کیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

یادونه: د پوهنځي د لیدلوري او ماموریت پورته جملې د اقتصاد پوهنځي د علمي شورا د ۱۴۰۳/۹/۲۸ په (۹) ګڼه پروتوکول او د پوهنتون د علمي شورا د ۱۴۰۳/۱۱/۲۸ نېټې په (۱۱) ګڼه پروتوکول کې ثبت او تائید شوې دي.

## ۲-۳- د پوهنځي ارزښتونه

اقتصاد پوهنځی د چارو په پرمخ وړلو کې لاندې ارزښتونه په پام کې نیسي:

۱. ټولو اسلامي، ملي او انساني ارزښتونو ته درناوی؛
۲. همغږي، همکاري، عدالت او نورو اداري او ټولنیزو اصولو ته ژمنتیا؛
۳. د علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو ته متقابل درناوی لرل؛
۴. د ټولنې، پوهنتون او نورو ذیدخل اړخونو په وړاندې د مسؤلیت احساس؛
۵. د چارو په پرمخ وړلو کې مشارکت او د مشورې اصل په پام کې نیول؛
۶. په هېواد او پوهنتون کې د ټولو نافذه قوانینو او مقرراتو په پام کې نیول.

## ۲-۴- د پوهنځي ستراتېژیکې موخې

د اقتصاد پوهنځي ستراتېژیکې موخې عبارت دي له:

۱. د پوهنځي په سطحه د علمي څېړنو پراختیا، پرمختیا او د پوهنې او نوښت تولید؛
۲. د پوهنځي غوره اداره او رهبري، د سیستم منځ ته راوړل، د فساد کاملا محوه کول؛
۳. د نصاب پراختیا او په پوهنځي کې د پرمختللي او نوي تحصیلي نصاب تطبیقول؛
۴. د پوهنځی له تدریسي او اداري چارو نظارت او ارزونه کول او د کیفیت لوړاوی؛
۵. په پوهنځي کې د الکترونیکي زده کړو پراختیا او د الکترونیکي سیستمونو تطبیقول؛
۶. د پوهنځي د زېربناء پراختیا او د ټولو اړتیا وړ تدریسي او اداري تجهیزاتو چمتو کول؛
۷. د پوهنځي د اداري کارکوونکو او کادري غړو تشکیل زیاتول او ظرفیت لوړونه؛
۸. په هېواد، لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون کې د ټولو نافذه قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو تطبیق او د پوهنځي د تقنیني اسنادو تدوین، تعدیل او تطبیق؛
۹. د پوهنتون له ټولو داخلي او بهرنیو اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو نهادونو سره د اړیکو ښه والي او پراختیا او د ټولنې په پرمختیا کې فعاله او مسؤلانه ونډه اخیستنه؛
۱۰. د محصلانو د ظرفیتونو لوړونې لپاره د ښو علمي برنامو او خدماتو عرضه کول.

## ۲-۵- د پوهنځي راتلونکي برنامې

اقتصاد پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت د لس ګوني موخو (څېړنو پرمختیا او د پوهنې او نوښت تولید؛ اداري ریفورم او د ښې حکومتولۍ د سیستم منځ ته راوړل او د فساد مخنیوی؛ د نصابونو بیا کتنه او تدوین؛ د لوړو زده کړو په نهادونو کې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې د معیارونو له تطبیق څخه اطمینان تر لاسه کول؛ د الکترونیکي زده کړو ښه والی او پرمختیا؛ د زېربناوو ښه والی او پراختیا؛ ظرفیت لوړونه؛ د تقنیني او تخنیکي اسنادو بیا کتنه، تعدیل او تدوین؛ له اکاډمیک او غیر اکاډمیک نهادونو سره د اړیکو ښه والي او پراختیا او لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسي) او د پکتیکا پوهنتون د موخو (د څېړنو پرمختیا او د پوهنې او نوښت تولید؛ اداره او رهبري، د سیستم ایجاد، د فساد کاملا له منځه وړل او د مالي او عایداتي سرچینو زیاتوالی؛ د نصاب پراختیا او د پرمختللي نصاب تطبیقول؛ د پوهنتون له تدریسي او اداري بهیر څخه نظارت او ارزونه کول او د کیفیت لوړاوی؛ د الکترونیکي زده کړو ښه والی او پرمختیا؛ د زېربناء ښه والی، پراختیا او تجهیز؛ د کارمندانو او کادري غړو کمیت او ظرفیت لوړول؛ د پوهنتون د داخلي طرزالعملونو او لوایحو تعدیل، تدوین او تطبیق؛ له اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو نهادونو سره د اړیکو ښه والی او پراختیا او د ټولنې په پرمختیا کې ونډه اخیستل؛ لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسی او د استعدادونو د ودې او پرمختیا لپاره محصلانو ته د خدماتو عرضه کول) او د پوهنځي د پورته ذکر شوې ستراتېژیکو موخو په رڼا کې لاندې عمده برنامې په پام کې لري:

### ۲-۵-۱- د علمي څېړنو پیاوړتیا او د پوهنې او نوښت تولید

په هېواد کې د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو د علمي کادر غړي له یوې خوا په اړوند نهاد کې د تدریس او اداري چارو د پرمخ وړلو دنده په غاړه لري او له بلې خوا د خپلې تحصیلي رشتې په اړوند ساحه کې د علمي څېړنو په سر ته رسولو، د علمي مقالو په خپرولو او د علمي اثارو په لیکنه مکلف دي؛ خو له بده مرغه تر دا مهاله د پوهنځي د نوي تأسیس په دلیل د پوهنځي زیاتره استادان لیسانس تحصیلي درجه او نوماند پوهنیار علمي رتبه لري او لږ شمېر استادان یې د ماستري تحصیلي سویه او د پوهنیار علمي رتبې لرونکي دي؛ نو ځکه تر دا مهاله د پوهنځي د علمي کادر د غړو له لوري خپاره شوي څېړنیز اثار او علمي مقالې لږ دي. د پوهنځي مشرتابه د دې ستونزې د حل لپاره څلور تنه استادان مخکې له مخکې ماستري برنامو ته معرفي کړي دي او هیله لري چې د روان ۱۴۰۴ تحصیلي کال د طاق سمستر تر پیل پورې به ماستري برنامې بشپړې کړې او د هغه سربېره یې په ۱۴۰۴ کال کې له څلور تنو نورو استادانو سره ماستري برنامو ته د معرفي کېدلو موافقه کړې دي، چې د هغوی په بریا سره په پوهنځي کې د لیسانس استادانو کچه صفر ته را ټیټېږي او ماستر استادان د ماستري په جریان، تیزس لیکنه او له ماستري وروسته د علمي ترفیعاتو د سرته رسولو لپاره مکلف دي چې په څېړنیزو فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي، په دې سره به د پوهنځي د علمي څېړنو برخه لا پیاوړې شي او په پوهنځي، لوړو زده کړو پوهنتون او هېواد کې به د علمي اثارو د زېرمو په بداینه، د شته ستونزو په حل او د نوښتونو په تولید کې فعاله ونډه ولري.

### ۲-۵-۲- ښه اداره او رهبري او د فساد کاملا محوه کول

ښه اداره او رهبري د یوه سازمان د فعالیتونو د مسیر ټاکنې، تنظیم، موخو ته د رسېدنې او پرمختیا په برخه کې تر ټولو مهم رول لوبوي. اقتصاد پوهنځي هڅه کوي چې د ټولو اداري اصولو او د پوهنځي د ارښتونو په رڼا کې فعالیتونه تر سره کړي او د یوه متحد، متعهد، مسلکي او مخلص کاري ټیم په درلودلو سره په پوهنځي کې د هېواد، لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون ټول نافذه قوانین، مقررات، لوایح او طرزالعملون په ښه توګه تطبیق کړي او له دې لارې د غوره مدیریتي، تدریسي او اداري سیستمونو په منځ ته راوړلو سره کاري موثریت ته وده ورکړي او د فساد په کاملا محوره کولو کې چټک ګامونه واخلي. دا هغه کړنې دي چې د پوهنځي موخو او په پایله کې لرلید ته د رسېدلو لپاره خورا ضروري ګڼل کېږي.

### ۲-۵-۳- د نصاب پراختيا او د غوره نصاب تطبيق کول

دا چې د اقتصاد پوهنځي لپاره تر دا مهاله د لوړو زده کړو وزارت له لورې نوی تحصيلي نصاب نه دی تدوين شوي بناء، پوهنځی هڅه کوي، چې د مخکيني نصاب مطابق د پوهنځي په درسي او کمکي درسي موادو له عقيدي، فکري، مذهبي، د نظام د پاليسي او محتوايي نظره کتنه وکړي، د اړتيا په مهال د لازمو اصلاحاتو وړانديز وکړي او په تدريسي پروسه کې د استادانو په مرسته ټول هغه موارد چې له ذکر شوي نظرونو څخه ستونزه لري محصلانو ته په بشپړه توګه د اسلامي شريعت د احکامو او د اسلامي امارت د پاليسي په رڼا کې واضيح بيان کړي. کله چې د پوهنځي لپاره نوی درسي نصاب تدوين شي د پوهنځي ټول استادانو به په پوره اخلاص او صداقت سره د هغه په ښه تطبيق کې همکاري کوي او د درسي او ممد درسي موادو تر څنګ به د محصل محوره او پايلو پر بنسټ درسي بهر په پلي کولو کې د محصلينو لپاره تمرينونه، کورنۍ دندې، سمينارونه، ګروپي کارونه، ويډيويي او الکترونيکي زده کړې او نور ګټور درسي فعاليتونه په پام کې نيسي او پلي کوي.

### ۲-۵-۴- د چارو نظارت او ارزونه او د کيفيت لوړاوی

د پوهنځي د مشرتابه له لورې به په خپل ترتيب او د سلسله مراتبو په پام کې نيولو سره په جدي توګه نظارت او ارزونې تر سره کېږي او د کيفيت لوړاوي او اعتبار لوړولو لپاره به له ټولو شته فزيکي او بشري او د اړتيا په مهال مالي امکاناتو څخه ګټه اخيستل کېږي. له تدريسي بهير څخه به د څانګو آمرين او د پوهنځي رئيس په منظمه توګه نظارت کوي، د څانګو آمرين به د استادانو او د پوهنځي رئيس به د آمرينو، استادانو او اداري کارمندانو له کړنو څخه د دوامداره نظارت تر څنګ مستقيما او يا په غير مستقيم ډول د کمېټوي جوړښتونو له لارې سمستر واره او يا کلنۍ ارزونې ترسره کوي. د نظارت او ارزونې دا ټول فعاليتونه او په مجموع کې د بېلابېلا کمېټو (تضمين کيفيت، ستراتېژيک پلان، تحصيلي نصاب، نظم، دسپلين او د شکاياتو د حل، ازموينو، نشراتو او کلتوري چارو، علمي څېړنو او الکترونيکي زده کړو د کمېټو) فعاليتونه تر سره کول هغه څه دي، چې د پوهنځي د تدريسي او اداري چارو د موثريت زياتولو سربېره د پوهنځي لپاره د کيفيت په لوړونه او غوره کيفيت د باور پاڼو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

### ۲-۵-۵- د تکنالوژي ترويج او الکترونيکي زده کړې

د پکتيکا پوهنتون اقتصاد پوهنځي په تدريسي بهير کې له زده کړه ايزې او معلوماتي تکنالوژي څخه کار اخلي. ددې پوهنځي ټول تدريسي ټولګي د ال سي ډي سکرينونو او امنيتي کامرو لرونکي او له انټرنېټ سره د وصل کېدلو امکانات لري. د دې ترڅنګ د پوهنځي دوه لوي ټولګي ساونډ سيستم هم لري او د محصلانو لپاره غوره زده کړه ييز امکانات چمتو شوي دي. د پوهنځي ټول استادان هڅه کوي چې په تدريسي بهير کې له دې الکترونيکي وسايلو څخه ګټه واخلي او د هغه سربېره محصلينو ته د الکترونيکي زده کړو او انټرنېټ څخه د سالمي او علمي ګټه اخيستنې لپاره ګټور سمينارونه وړاندې کړي او هغوی له دې وسايلو څخه په ګټه اخيستنه وتوانوي.

### ۲-۵-۶- د زېربناء پراختيا او فزيکي اړتياوې رفع کول

دا چې اقتصاد پوهنځي خپل تدريسي او اداري تعمير نه لري نو د پوهنځي مشرتابه په پوره ژمنتيا سره هڅه کوي چې د هغه د منظورولو او جوړولو لپاره وړانديز وکړي او په خپله برخه کې څرنګه چې لازمه وي کړنې تر سره کړي؛ خو په دې برخه کې د لوړو زده کړو مؤسساتو او پوهنتونو د مالي خپلواکي د نشتوالي له کبله دا هرڅه په لوړه کچه د امارت د مشرتابه په پرېکړه پورې اړې لري او د پوهنځي رول يوازې تر وړانديز کولو او تعقيبولو پورې محدود دی. له بلې خوا پوهنځي تراوسه پورې د خپلو ټولو استادانو او کارکوونکو فزيکي اړتياوې (اداري او تدريسي وسايلو ته اړتياوې) رفع کړې دي او په راتلونکي يې هم پر وخت د رفع کولو هڅه کوي.

**۲-۵-۷- د علمي برنامو ایجادول او ظرفیت لوړونه**

اقتصاد پوهنځي هڅه کوي، چې تر راتلوونکي پنځو کلونو پورې د دې پوهنځي په چوکاټ کې د (ملي اقتصاد، محاسبې او احصائیې او ایکانومتري) دېپارتمنتونه ایجاد کړي، په دې سره د پوهنځي تشکیل زیات شي او محصلانو ته به د ټولنې د اړتیا مطابق په مختلفو برخو کې د تحصیل کولو زمینه برابره شي. د پوهنځي د کادري او اداري تشکیل زیاتولو ترڅنګ پوهنځی هڅه کوي، چې استادان د ظرفیت لوړونې اوږدمهال برنامو ماستري او دکتورا او لنډ مهاله برنامو ملي او بین المللي کنفرانسونو، ورکشاپونو، علمي سمینارونو، علمي سفرونو او نورو علمي، څېړنو او فرهنګي محافلو ته معرفي کړي چې د ظرفیتونو او مهارتونو په لوړولو کې مرسته کوي. د دې سربېره پوهنځي هڅه کوي، چې د لوړو زده کړو پوهنتون او پوهنځي په داخلي کې د استادانو او کارکوو کو لپاره د ظرفیتونو او مهارتونو د لوړولو په موخه د ګټورو علمي برنامو لکه کنفرانسونو، ورکشاپونو، علمي سمنیارونو، نندارتونو او نورو ګټورو پروګرامونو د تطبیق امکانات برابر کړي.

**۲-۵-۸- د داخلي تقنیني اسنادو تعدیل او تطبیق**

لکه څرنګه چې په پوهنځي کې د مافوق مراجعو له لورې د رالېږل شوي تقنیني اسنادو سربېره د یو شمېر داخلي لوایحو، طرزالعملونو او تقنیني اسنادو د تدوین، د اړتیا په مهال د تعدیل او تطبیق اړتیا لیدل کېږي، نو ځکه پوهنځی هڅه کوي، چې دغه کړنه په ښه توګه تر سره کړي او په مټ یې د نظم او نضباط یو منظم درسي او اداري سیستم ایجاد او نور هم پیاوړی کړي.

**۲-۵-۹- توامیتونه او ټولنې په پرمختیا کې رول لرل**

د پکتیکا پوهنتون اقتصاد پوهنځی په پام کې لري، چې د ټولنې د پرمختیا په برخه کې رغنده رول ولوبوي. ددې کار لپاره به له مختلفو امارتي او خصوصي ادارو سره توامیتونه ولري، د همکاریو په توامیتونو کې به د تجاربو او مشوور په تبادله، محصلانو ته د عملي کار د زمینې په برابرولو او یو د بل په فرهنګي محافلو کې د ګډون سربېره د اصولو مطابق په یو شمېر نورو علمي، څېړنیزو او کلتوري همکاریو ټینګار کېږي او هغه به په عمل کې پلي کېږي. د دې ترڅنګ به د پوهنځي استادانو د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د علمي څېړنو تر سره کولو، د عامه پوهاوي د وړاندې کولو، مثبت ذهنیت د خپرولو او مخدره توکو د کښت او کاروني د مخنیوي، چاپېریال ساتنې، معروفاتو ته د خلکو د رابلنې او له منکراتو څخه د مخنیوي په برخه کې غوره رول ولوبوي.

**۲-۵-۱۰- د محصلانو اړوند خدماتو ته پراختیا ورکول**

اقتصاد پوهنځي نه یوازې دا چې محصلانو ته یوازې د تدریس په برخه کې ځان مسؤل ګڼي بلکه محصلینو ته د هغو د مهارتونو د لوړولو لپاره د ګټور برنامو لکه علمي سمنیارونو، ورکشاپونو، لنډمهاله کورسونو، عملي کار، مشورتي خدماتو، کارموندنې او د هغوی لپاره د علمي سفرونو د برابرو په برخه کې مسؤلانه چلند کوي. د دې سربېره د پوهنځي مشرتابه هڅه کوي چې د خپل توان مطابق د محصلینو ستونزو او شکایتونو ته له اصولو سره سم رسېدګي وکړي او یا هغه تر مافوق مراجعو پورې ورسوي.

**۲-۵-۱۱- د عوایدو او عایداتي سرچینو زیاتوالی**

پکتیکا پوهنتون یوه امارتي پوهنتون دی او یوازې د هیواد د نافذه قوانینو او مقرراتو مطابق عواید ترلاسه کولای شي نو ځکه ددې پوهنتون اقتصاد پوهنځي هم تر دا مهاله یوازې له محصلانو څخه د ډیپلوم او ترانسکریپت او د محصلانو د هویت کارت په بدل کې قېمت ترلاسه کول خپلې عایداتي منابع ګڼي؛ خو دا پوهنځی په دې تلاش کې دی، چې د عواید د زیاتوالی لپاره د اصولو مطابق نورې ممکنه منابع هم ولټوي او یا لږ تر لږه د پوهنځي د اړتیاوو د رفع کولو لپاره مالي مرستي او همکاری را جلب کړي.

**۲-۵-۱۲- په نړیواله کچه فعالیتونه سرته رسول**

دا چې اقتصاد پوهنځي نوی تأسیس شوی او تر دا مهاله یې د فعالیت ساحه نسبتا محدوده دی نو ځکه د نړیوال فعالیت په برخه کې ډیر کار نشي تر سره کولای، خو ددې پوهنځي استادان هڅه کوي، چې په نړیواله کچه علمي څېړنې ترسره او خپرې کړي او هم په نړیوالو کنفرانسو او علمي برنامو کې ونډه واخلي او له دې لارې د پوهنځي په پرمختیا کې د نړۍ د نورو پوهانو له مثبو تجاربو ګټه واخلي او خپلې علمي لاس ته راوړنې له هغوی سره شریکې کړي.

## ۳ – د پوهنځي د چاپېریال تحلیل

د پوهنځي په چاپېریال کې دوه ډوله عوامل (قوتونه او کمزوروتیاوې) د داخلي عواملو په توګه او (فرصتونه او خنډونه) د بهرني عواملو په توګه شتون لري، چې په لاندې برخه کې به د هر ډول عواملو یادونه او د هغوی تحلیل وړاندې شي.

### ۳-۱- د پوهنځي د داخلي چاپېریال عوامل

د پوهنځي د داخلي چاپیریال له عواملو څخه مطلب د پوهنځي وضعیت باندې هغه اغیزناک عوامل دي، چې د پوهنځي په کنترول کې دي او پوهنځی کولای شي، چې په هغو کې د تغیر په سبب د پوهنځي په وضعیت کې تغیر رامنځ ته کړي لکه د رهبري سبک، نوښتونه، تدریسي او اداري امکانات، د اداري اصول او ارزښتونو تطبیق، د علمي کادرونو شمېر، تجارت، پوهه، تحصیلي درجه او علمي رتبه، مالي سرچینې او داسې نور. په دې عواملو کې هغه عوامل چې د پوهنځي په وضعیت مثبت اغیز لرلای شي قوتونه او که منفي اغیز ولري کمزورتیاوې ګڼل کېږي، چې په لاندې توګه یې یادونه کوو:

#### ۳-۱-۱- د پوهنځي قوتونه

۱. د پوهنځي ښه رهبري او سالم مدیریت؛
۲. په پوهنځي کې د نوښت او ابتکاراتو شتون او پلي کول؛
۳. په پوهنځي کې ښه تدریسي امکانات او باکیفیته تدریس؛
۴. له ټولو کادري غړو او اداري کارکوونکو سره د مسؤلیت منلو د حس شتون؛
۵. له داخلي او خارجي ادارو سره غوره اړیکي او د همکاریو هـو کړه لیکونه لرل؛
۶. د چارو په پرمخ وړلو کې د مشارکت، رښتینولي او همکاري د روحیې شتون؛
۷. په پوهنځي کې د باتجربه او مسلکي علمي کادرونو او اداري کارمندانو شتون؛
۸. له امارتي او خصوصي تحصیلي نهادونو سره د سالمې سیالۍ د روحیې شتون.

#### ۳-۱-۲- د پوهنځي کمزورتیاوې

۱. د پوهنځي په سطح د مالي او عایداتي سرچینو کموالی؛
۲. د پوهنځي په سطح د څېړنیز مرکز نشتوالی او لږ امکانات؛
۳. په پوهنځي کې د یوه ځانګړي غني کتابتون نشتوالی او د کتابونو کمښت؛
۴. په پوهنځي کې د تدریسي ویډیو سټوډیو نشتوالی او د برقي تدریس لږ امکانات؛
۵. د پوهنځي لپاره د خپل ځانګړي تعمیر، تدریسي ټولګیو او اداري دفاترو نشتوالی؛
۶. د پوهنځي په سطحه د علمي مجالسو د جـوړولو لپاره د کنفرانس خونې نشتوالی؛
۷. په پوهنځي کې د لوړې تحصیلي سویې او علمي رتبې لـرونکي کادرونو کـمښت.

#### ۳-۱-۳- د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل

د پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د تحلیل په موخه د پوهنځي استادانو، کارکوونکو، د لوړو زده کړو پوهنتون معاونیتونو، پوهنځیو، مستقلو آمریتونو، ذیربط ادارو او استخدام کوونکو او برحال محصلینو ته پوښتنپاڼې توضیح شوې دي، د هغو له ځوابونو څخه د ترلاسه شوې پایلې په اساس د عواملو لپاره وزني ضریب او وزني امتیاز ټاکل شوي چې پایله یې په لاند متریکس کې ښودل شوې ده:

۴– جدول : د داخلي محيطي عواملو د تحليل متريکس (IFEM)

| ګڼه | قوتونه او کمزورتياوې | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنځي ښه رهبري او سالم مديريت؛ | 0.07381 | 4 | 0.29524 |
| ۲ | په پوهنځي کې د نوښت او ابتکاراتو شتون او پلي کول؛ | 0.06651 | 4 | 0.26604 |
| ۳ | په پوهنځي کې ښه تدريسي امکانات او باکيفيته تدريس؛ | 0.06631 | 3 | 0.19893 |
| ۴ | له ټولو کادري غړو او اداري کارکوونکو سره د مسؤليت منلو د حس شتون؛ | 0.07065 | 4 | 0.2826 |
| ۵ | له داخلي او خارجي ادارو سره غوره اړيکي او د همکاريو هـوکړه ليکونه لرل؛ | 0.06769 | 4 | 0.27076 |
| ٦ | د چارو په پرمخ وړلو کې د مشارکت، رښتينولي او همکاري د روحيې شتون؛ | 0.06532 | 4 | 0.26128 |
| ۷ | په پوهنځي کې د باتجربه او مسلکي علمي کادرونو او اداري کارمندانو شتون؛ | 0.07065 | 4 | 0.2826 |
| ۸ | له امارتي او خصوصي تحصيلي نهادونو سره د سالمې سيالۍ د روحيې شتون. | 0.0671 | 4 | 0.2684 |
| ۹ | د پوهنځي په سطح د مالي او عايداتي سرچينو کموالی؛ | 0.06315 | 2 | 0.1263 |
| ۱۰ | د پوهنځي په سطح د څېړنيز مرکز نشتوالی او لږ امکانات؛ | 0.06355 | 2 | 0.1271 |
| ۱۱ | په پوهنځي کې د يوه ځانګړي غني کتابتون نشتوالی او د کتابونو کمښت؛ | 0.06357 | 2 | 0.12714 |
| ۱۲ | په پوهنځي کې د تدريسي ويډيو سټوډيو نشتوالی او د برقي تدريس لږ امکانات؛ | 0.06454 | 2 | 0.12908 |
| ۱۳ | د پوهنځي لپاره د خپل ځانګړي تعمير، تدريسي ټولګيو او اداري دفاترو نشتوالی؛ | 0.06611 | 1 | 0.06611 |
| ۱۴ | د پوهنځي په سطحه د علمي مجالسو د جـوړولو لپاره د کنفرانس خونې نشتوالی؛ | 0.06177 | 2 | 0.12354 |
| ۱۵ | په پوهنځي کې د لوړې تحصيلي سويې او علمي رتبې لـرونکي کادرونو کـمښت. | 0.06907 | 1 | 0.06907 |
| | مجموعه | ۱ | | 2.89419 |

## ۳-۲- د پوهنځي د خارجي چاپېريال عوامل

د پوهنځي د خارجي چاپيريال له عواملو څخه مطلب د پوهنځي وضعيت باندې هغه اغيزناک عوامل دي، چې د پوهنځي په کنترول کې نه دي او پوهنځی نه شي کولای، چې په هغو کې د تغير په سبب د پوهنځي په وضعيت کې تغير رامنځ ته کړي لکه د هېواد سياسي، اقتصادي، ټولنيز، تکنالوژيکي، محيطي، قانوني او فرهنګي شرايط، رقابت، بهرني بشري ځواک او داسې نور . په دې عواملو کې هغه عوامل چې پوهنځي ته متوقعه ګټه رسولای شي د فرصتونو او هغه عوامل چې پوهنځي ته متوقعه زيان رسولای شي د خنډونو يا تهديدونو په نامه يادېږي، چې په لاندې ډول يې يادونه کوو :

### ۳-۲-۱- د پوهنځي فرصتونه

۱. د اقتصاد پوهنځي له لوستلو سره د ښوونځيو د فارغانو ډېره علاقه؛
۲. له اقتصاد پوهنځي سره د پوهنتون د رهبري د همکاري ښه روحيه؛
۳. د کار په بازار کې د پوهنځي لپاره د متخصص علمي کادرونو شتون؛
۴. د کار په بازار کې د دې پوهنځي د فارغانو لپاره د کاري ساحې پراخوالی؛
۵. د همکاريو د هوکړه ليکونو د لاسليکولو په برخه کې د مختلفو ادارو علاقه؛
۶. د ظرفيت لوړونې په برخه کې د پوهنتون له لوري د ډېرو علمي برنامو دايرول.

### ۳-۲-۲- د پوهنځي فرصتونه

۱. د تخصیص شوي بوجې کموالی؛
۲. د پوهنځي د فارغانو په کاري ساحه د تکنالوژي د چټکو تغیراتو ډیره اغیزه؛
۳. د پوهنځي په نصاب او اقتصادي تیوریو کې د چاپېریال د تغیر له کبله بې ثباتي؛
۴. له انګلیسي ژبې او معلوماتي تکنالوژي سره د نوي جذب شوي محصلانو کمه بلدتیا؛
۵. په پکتیکا ولایت کې د اقتصاد پوهنځي د محصلانو د عـملي کار کـولو لږ فرصتونه؛
۶. په ملي ژبو په ځانګړي توګه په پښتو ژبه کې د پوهنځي اړوند علمي منابعو کموالی؛
۷. د دې پوهنځي د علـمي کادر د غړو لپاره د ماستري او دوکتورا د بورسـونو کمښت.

### ۳-۲-۳- د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل

د پوهنځي د خارجي محیطي عواملو د تحلیل په موخه د پوهنځي استادانو، کارکوونکو، د لوړو زده کړو پوهنتون معاونیتونو، پوهنځیو، مستقلو آمریتونو، ذیربط ادارو او استخدام کوونکو او برحال محصلینو ته پوښتنپاڼې وېشل شوې دي، د هغو له ځوابونو څخه د ترلاسه شوې پایلې په اساس د عواملو لپاره وزني ضریب او وزني امتیاز ټاکل شوی، چې پایله یې په لاند متریکس کې ښودل کېږي:

۵– جدول: د خارجي محیطي عواملو د تحلیل متریکس (IFEM)

| ګڼه | فرصتونه او خنډونه | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اقتصاد پوهنځي له لوستلو سره د ښوونځیو د فارغانو ډېره علاقه؛ | ۰،۰۸۲۹۷ | ۴ | 0.33188 |
| ۲ | له اقتصاد پوهنځي سره د پوهنتون د رهبري د همکاري ښه روحیه؛ | ۰،۰۸۱۵۶ | ۴ | 0.32224 |
| ۳ | د کار په بازار کې د پوهنځي لپاره د متخصص علمي کادرونو شتون؛ | ۰،۰۸۷۲۴ | ۴ | 0.34896 |
| ۴ | د کار په بازار کې د دې پوهنځي د فارغانو لپاره د کاري ساحې پراخوالی؛ | ۰،۰۵۷۹۹ | ۳ | 0.17397 |
| ۵ | د همکاریو د هوکړه لیکونو د لاسلیکولو په برخه کې د مختلفو ادارو علاقه؛ | ۰،۰۷۳۱۵ | ۳ | 0.21945 |
| ٦ | د ظرفیت لوړونې په برخه کې د پوهنتون له لوري د ډیرو علمي برنامو دایرول. | ۰،۰۷۱۳۰ | ۳ | 0.2139 |
| ۷ | د تخصیص شوي بوجې کموالی؛ | ۰،۰۷۵٦۹ | ۲ | 0.15138 |
| ۸ | د پوهنځي د فارغانو په کاري ساحه د تکنالوژي د چټکو تغیراتو ډیره اغیزه؛ | ۰،۰۷٦۳۹ | ۲ | 0.15278 |
| ۹ | د پوهنځي په نصاب او اقتصادي تیوریو کې د چاپېریال د تغیر له کبله بې ثباتي؛ | ۰،۰۷٦۱٦ | ۲ | 0.15232 |
| ۱۰ | له انګلیسي ژبې او معلوماتي تکنالوژي سره د نوي جذب شوي محصلانو کمه بلدتیا؛ | ۰،۰۷۹۸٦ | ۱ | 0.07986 |
| ۱۱ | په پکتیکا ولایت کې د اقتصاد پوهنځي د محصلانو د عملي کار کولو لږ فرصتونه؛ | ۰،۰۸۰۳۲ | ۱ | 0.08032 |
| ۱۲ | په ملي ژبو په ځانګړي توګه په پښتو ژبه کې د پوهنځي اړوند علمي منابعو کموالی؛ | ۰،۰۷٦٦۲ ۰ | ۲ | 0.15324 |
| ۱۳ | د دې پوهنځي د علـمي کادر د غړو لپاره د ماستري او دوکتورا د بورسـونو کمښت. | ۰،۰۷۳۸۴ | ۲ | 0.14768 |
| | مجموعه | ۱ | | 2.52798 |

### ۳-۳- د (IEM) متریکس په مرسته د داخلي او خارجي محیطي عواملو پرتله

په دې متریکسونو کې د خارجي او داخلي محیطونو عواملو ته مطابقت ورکوو او په ماموریت پورې اړوند ستراتېژیانې پېژنو.

### ۳-۳-۱- د نهه خانې ای متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت

په نهه خانه اي متریکس کې کچېري پوهنځي د ۲، ۳، ۶ په خانو کې ځای ونیسي د هغې پوهنځي لپاره د ودې او پراختیا د ستراتیژیو معنی لري، که پوهنځي د ۱، ۵، ۹ په خانو کې ځای ونیسي د ساتنې او ثبات د ستراتېژیو معنی لري او که پوهنځي د ۴، ۷، ۸ په خانو کې ځای ونیسي د تدافعي او کموالی د ستراتېژیو معنی لري. د نهه خانه ای متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت په لاندې شکل کې د ستورې په علامې سره ښودل شوی دی:

۶ – جدول: د پوهنځي دستراتېژیک حالت ټاکنه په نهه خانه ای متریکس کې

| د داخلي عواملو د متریکس نهایي نمره: ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | د خارجي عواملو د متریکس نهایي نمره |
|---|---|---|---|---|
| .I | .II | .III | | ۴ |
| .IV | .V ☆ | .VI | | ۳ |
| .VII | .VIII | .IX | | ۲ |
| | | | | ۱ |

دا چې د پکتیکا پوهنتون اقتصـاد پوهنځی د متریکس په پنځمه (۵) خانه کې موقیعت لري؛ نو ویلای شـو چې دغـه پوهنځي د (ساتنې او ثبات) سـتراتیژیاني غوره کړي دي.

### ۳-۳-۲- د څلور خانه اې متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت

د څلور خانه ای متریکس له مخې د پوهنځي موقیعت په لاندې جدول کې ښودل شوی دی:

۷ – جدول: په څلور خانه اې متریکس کې د پوهنځي ستراتېژیک حالت

| د داخلي عواملو د متریکس نهایي نمره: ۱ | ۲,۵ | ۴ | د خارجي عواملو د متریکس نهایي نمره |
|---|---|---|---|
| .I محافظه کارانه ستراتیژیاني | .II تهاجمي ستراتېژیاني ☆ | | ۴ |
| | | | ۲,۵ |
| .III تدافعي ستراتېژیاني | .IV رقابتي ستراتیژیاني | | ۱ |

له پورته شکل څخه خرګندېږي، چې د پکتیکا پوهنتون اقتصاد پوهنځی د څلور خانې لرونکې متریکس له مخې، چې په شکل کې د ستورې په علامې سره ښودل شوی دی په (۲) خانه کې موقیعت لري او (تهاجمي) ستراتېژي يې غوره کړې دي.

### ۳-۴- د (SWOT) متریکس په مرسته د داخلي او خارجي محیطي عواملو پرتله

ددې روش په مرسته لومړی داخلي او خارجي محیطونه تحلیلېږي او له هغه وروسته داسې ستراتېژیک تصامیم نیول کېږي، چې د سازمان قوتونه له فرصتونو سره متوازن کړي.

۸– جدول: د داخلي عواملو د لومړیتوبونو متریکس

| د اهمیت کچه | پړتله | د پوهنځي په کړنه یا رقابتي وړتیا اغیزه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | لوړ | متوسط | لږ |
| | لوړ | لوړ لومړیتوب | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب |
| | متوسط | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |
| | لږ | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |

۹– جدول: د خارجي عواملو د لومړیتوبونو متریکس

| د پیښېدو احتمال | حالت | په پوهنځي احتمالي اغیزه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | لوړ | متوسط | لږ |
| | لوړ | لوړ لومړیتوب | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب |
| | متوسط | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |
| | لږ | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |

۱۰– جدول: سوات متریکس (SWOT)

| داخلي عوامل / خارجي عوامل | **قوتونه (S)** | **کمزورتیاوې (W)** |
|---|---|---|
| | ۱. د پوهنځي ښه رهبري او سالم مدیریت؛<br>۲. په پوهنځي کې د نوښت او ابتکاراتو شتون؛<br>۳. په پوهنځي کې ښه تدریسي امکانات او باکیفیته تدریس؛<br>۴. له ټولو کادري غړو او اداري کارکوونکو سره د مسؤلیت منلو د حس شتون؛<br>۵. له داخلي او خارجي ادارو سره غوره اړیکې او د همکاریو هوکړه لیکونه لرل؛<br>۶. د چارو په پرمخ وړلو کې د مشارکت، ربښتینولي او همکارۍ د روحیې شتون؛<br>۷. په پوهنځي کې د باتجربه او مسلکي علمي کادرونو او اداري کارمندانو شتون؛<br>۸. له اماراتي او خصوصي تحصیلي نهادونو سره د سالمې سیالۍ د روحیې شتون. | ۱. د پوهنځي په سطح د مالي او عایداتي سرچینو کموالی؛<br>۲. د پوهنځي په سطح د څېړنیز مرکز نشتوالی او لږ امکانات؛<br>۳. په پوهنځي کې د یوه ځانګړي غني کتابتون نشتوالی او د کتابونو کمښت؛<br>۴. په پوهنځي کې د تدریسي ویډیو ستوډیو نشتوالی او د برقي تدریس لږ امکانات؛<br>۵. د پوهنځي لپاره د خپل ځانګړي تعمیر، تدریسي ټولګیو او اداري دفاترو نشتوالی؛<br>۶. د پوهنځي په سطحه د علمي مجالسو د جوړولو لپاره د کنفرانس خونې نشتوالی؛<br>۷. په پوهنځي کې د لوړې تحصیلي سويې او علمي رتبې لرونکي کادرونو کمښت. |

| فرصتونه (O) | تهاجمي ستراتېژیاني (O S) | محافظه کارانه ستراتېژیاني (WO) |
|---|---|---|
